# کله دې چې هغه کسان وليدل چې لدې آيتونو څخه د متشابهاتو پسې ګرځي نو همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی يې يادونه کړې ده نو ځان ترې وساتئ

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې وايي: تَلَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الْآيَةَ: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ، وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ، وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} [آل عمران: 7]. قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَإِذَا رَأَيْتِ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ سَمَّى اللهُ، فَاحْذَرُوهُمْ». رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت ولوست: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ، وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ، وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} [آل عمران: 7]. يعني : (دی هغه ذات دی چې په تا باندې يې کتاب نازل کړی دی، په ده کې ځينې محکم (ښکاره مراد والا) آيتونه دي؛ چې هغه د کتاب اصل دي، نور يې متشابهات (پټ مراد والا) دي، نو هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې کوږ والی دی؛ نو هغوی په هغو (آيتونو) پسې کېږي چې په دې (قرآن) کې متشابه (پټ مراد والا) دي، د فتنې لټولو لپاره او د هغو د مراد معلومولو لپاره، حال دا چې د هغوی په تاويل (مراد) باندې نه پوهېږي مګر الله، او هغه کسان چې په علم کې پاخه دي؛ هغوی وايي: مونږ پر ده ايمان راوړی دی، ټول (محکم او متشابه آيتونه)زمونږ د رب له جانبه دي، او پند نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان). عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «کله دې چې هغه کسان وليدل چې لدې آيتونو څخه د متشابهاتو پسې ګرځي نو همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی يې يادونه کړې ده نو ځان ترې وساتئ».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت ولوست: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} چې پدې کې الله پاک خبر ورکوي چې دی هغه ذات دی چې پر خپل پیغمبر يې قرآن نازل کړی، له هغه څخه ځينې د څرګند دلالت لرونکي آيتونه دي چې حکمونه يې معلوم دي، هيڅ ناڅرګندوالی پکې نشته، نو دا د کتاب اصل او مرجع دی، او د اختلاف پر مهال ورته رجوع کيږي، او داسې نور آيتونه هم شته چې له يو څخه زياتې معناوې لري، چې معنا يې پر ځينو خلکو ګډوډيږي او يا ګمان کوي چې د هغه او بل آيت تر منځه تضاد دی، بيا الله تعالی لدې آيتونو سره د خلکو تعامل په ډاګه کړ، نو د هغه چا په زړونو کې چې له حق څخه کوږوالی شتون ولري، هغوی محکم آيتونه پرېږدي او احتمالي متشابه آيتونو باندې عمل کوي، پدې سره غواړي چې شکونه او شبهې راپاروي او خلک ګمراه کړي او پدې سره غواړي چې آيتونه د خپلې خوښې پر اساس تاويل کړي، او هغه کسان چې په علم کې ثابت دي، نو هغوی پر دې متشابهاتو پوهيږي او محکمو آيتونو ته يې راجع کوي او ايمان پرې لري چې دا د الله پاک له لورې دي، او شوني نده چې تعارض او ګډوډې دې سره ولري، مګر دا هغه څه دي چې پدې يوازې د سالم ذهن لرونکي خلک پند اخلي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د مؤمنانو مور عايشې رضی الله عنها ته وفرمايل چې: کله يې دا ډول خلک وليدل چې د متشابهاتو پسې ګرځېدل نو يقينا همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی يې پدې وينا کې يادونه کړې ده چې فرمايي: {فأما الذين في قلوبهم زيغ} (يعني او هغه کسان چې په زړونو کې يې کوږوالی دی ) نو له هغوی څخه ځان وساتئ او غوږ ورته مه

نیسئ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65062

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee